مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۷/۰۶

# مـلا! نجلۍ مکتب ته ځي کفاره خو به نشي

پر لاره د رنـا ځـي گنهکاره خـو بـه نشي!؟
مـلا! نجلۍ مکتب ته ځي کفاره خو به نشي !؟

ډاکتره ؛ انجینره شي یا پوهه قابله شي
د دین په قوانینو کې غـداره خو به نشي!؟

جي مور او هم ماشوم ته پرېښته شي د نجات
مفروره ترهگره او خونکاره خو به نشي!؟

فرعونه او نمروده او هامانـه پکې نـه وي
د نر غوندې مغروره خود آزاره خو به نشي!؟

چې نه کوي دعوه د انـالـحـق پـر لـویـه لاره
ته څه وايي منصور غوندې په داره خو به نشي!؟

چې ډېـره شي په ژوند د مسلمان له لاسه قیده
بـاوره د سـور کـفـر میـنـه داره خـو بـه نشـي!؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ